**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د ملګرو ملتونو د شبیه سازۍ خپرونه؛ د زدهکړې اسانه تجربه ده که د لوېدیځ لخوا له خطره ډکه وسله؟**



په پاکستان کې د ملګرو ملتونو د شبیه سازۍ خپرونې ته په ښوونځیو کې د یوې لویې موضوع په سترګه کتل کېږي. داسې برېښي چې په دې خپرونه کې ګډون به د ښوونیزو تجربو یوه بشپړه برخه وي، چې له امله یې سیمه‌ییز ښوونځي له زده کوونکو څخه ګروپونه جوړوي او زده کوونکي په دې خپرونو کې برخې اخیستنې ته هڅوي. هر ښوونځی یو ځانګړی ګروپ لري، چې د ملګرو ملتونو د شبیه سازۍ په یو شمېر فعالیتونو کې ونډه اخلي. ګډونوال له پاکستان څخه بهر او هم په کور دننه کې د نړیوالو پېښو په اړه خبرې اترې کوي او په نړیواله کچه پر یو لړ هغو کړکېچونو چې له سوریې تر سوډانه رامنځته کېږي بحث کوي، ترڅو یو قانع کوونکی ځواب وموندل شي.

زده کوونکو ته دا یوه موقف نیوونکې موضوع ده او د ملګرو ملتونو د شبیه سازۍ د فعالیتونو د یوې برخې په توګه پکې پاتې کېدل، دوی ته یو واقعي باور ورکوي. د دغو فعالیتونه تر شا دلیل دا دی، چې زده کوونکي د بحث کولو وړتیا موندلی شي او دغه فعالیتونه د یوې نوښتګرې سرچینې په توګه کولی شي زده کوونکي چمتو کړي، چې یو مسلک یا حرفه غوره کړي او په کالج کې بریا تر لاسه کړي. ښوونځي د دغه لیډلورۍ پر بنسټ خپل زده کوونکي هڅوي، چې په نوموړو فعالیتونو کې برخه واخلي او تر څنګ به یې دوی ته یو فرصت وي چې بهر سفر ته وکړي او تر دې ور ها خوا داسې جوتوي چې ښوونیز بنسټونه له زده کوونکو سره مرسته کوي چې خپل راتلونکې ته چمتو شي.

د زده کوونکو استازي د ملګرو ملتونو کارونه ستایي؛ هر استازۍ ناستې جوړوي د خپلو هیوادونو له اړتیاوو، لوړوهیلو او له بهرنیو سیاسي پرېکړو څخه استازیتوب کوي. دوی ټاکلي وخت ته په کتو سره د مسایلو په اړه څېړنې کوي او د هیواد د بهرنۍ تګلارې له دریځ سره سم ور څخه پوښتنه کېږي، ترڅو پټه ستراتیژي تطبیق کړي او شخړو ته د ملګرو ملتونو له اجنډا سره سمې حللارې غوره کړي.

د بېلګې په توګه په روان کال کې د جاپانیانو لپاره د ملګرو ملتونو د شبیه سازۍ موضوع د « لوړې پای ته رسول» و، چې په دې لړ کې څه ډول د خوراکي توکو امنیت ډاډمن شي، په خوړو کې څه ډول سمون او اصلاحات راشي او دوام لرونکې کرهنه څه ډول پراختیا ومومي. په همدې روان کال کې په ګانا کې د ملګرو ملتونو د شبیه سازۍ موضوع «د بدلون په لور د ګامونو اخیستل» و. په بنکاک کې د ۲۰۱۹م لپاره د ملګرو ملتونو د شبیه سازۍ موضوع «بهرنۍ یووالی » دی، چې څه ډول شونې ده په نړیواله فضا کې بېلابېل نابغه ګان سره یو ځای شي.

د ملګرو ملتونو د شبيه سازۍ په هر کنفرانس کې له بېلابېلو هيوادونو څخه زده کوونکي غوره کوي او مقالې ورکول کېږي، ترڅو پرې بحثونه وکړي. د بحث لپاره په مقالو کې د ديپلوماسۍ، ترهګرۍ، سولې او د ولسونو د راتلونکې په اړه موضوعګانې شته.
که دا ډول فعاليتونو ته په سطحي ډول وکتل شي، نو يوه ستره تجربه او پايله تر سترګو کېږي. خو ستونزه دا ده، چې له دې لارې ځوانان هڅول کېږي چې له يو ټاکلي ليدلوري شيانو ته وګوري يانې له غربي ليدلوري. دا ډول فعاليتونه داسې يو حالت رامنځته کوي چېرته چې زده کوونکي خپلو افکارو او مفکورو ته غربي رنګ ورکوي.
د دغو هڅوونکو فعاليتونو موخه، د زده کوونکو د مهمو افکارو او د ستونزو حلوونکو وړتياوو محدودول دي. د ملګرو ملتونو د شبيه سازۍ فعاليتونه داسې کړنلارې دي، چې زموږ راتلونکي نسلونه ملګرو ملتونو او لوېديځوالو ته ژمنوي. کله چې زموږ دغه ځوان نسلونه له ستونزو سره لاس او ګريوان شي، نو حتمي ده چې د حل په موخه يې د ملګرو ملتونو سازمان او لوېديځ ادرس ته پناه وړي. دوی داسې فکر ته هڅول کېږي چې ايا د دوی درېځ به وکولی شي د کمزورو دولتونو واکمني ماته کړي يا دا چې دوی ليبرال نظام ته ژمن پاتې کېدای شي. د ملګرو ملتونو د شبيه سازۍ له کړنلارو څخه اصلي موخه دا ده چې ورڅخه د يوې وسيلې په توګه د غربي کلتور د خپراوي لپاره ګټه واخيستل شي او ځوانانو ته په داسې انګېزه روزنه ورکړل شي ، چې غربي نظام يو ځواکمن او پياوړی نظام دی.
د ملګرو ملتونو د شبيه سازۍ کړنلاره په بې ساري توګه يو سيال نندارتون دی، چې د ګروپ غړو ته له درسي ټولګيو وروسته روزنه ورکول کېږي. دوی ته زده کړې ورکول کېږي، ترڅو د هغو ستونزو په اړه چې په نړۍ کې ولسي وګړي ورسره مخ دي، بحث وکړي يا د هغو مفکورو په اړه بحث وکړي چې ولس ورسره مخ کېدونکی دی، لکه دولتي مداخله، بشري نفوذ او د غربي ليبرالو اصطلاحاتو له ګټې اخيستنې څخه ديپلوماتيک ځواب.
په يو شمېر موضوع ګانو کې، لکه د سوريې د کړکېچ په اړه زده کوونکو ته ويل کېږي، فکر وکړئ چې له کومې لارې کېدای شي له جابرو رژيمونو سره مرسته وشي، خو په دې کړکېچ کې د هيوادونو د لاسوهنې د بدۍ په اړه څه نه ويل کېږي؛ ايا امريکا به وغواړي چې نظامي او اقتصادي مرستې وکړي؟ برتانيه به څه ډول وکولی شي چې په عادلانه ډول له سوري وګړو سره مرسته وکړي، کوم چې په وحشت او بې رحمۍ سره وژل کېږي؟ ايا له ملکي وګړو سره مرسته به، ددې لامل شي چې ملګي وګړي خپل استازي ومني؟
اساسي ټکی دا دی چې زده کوونکو ته داسې زده کړه ورکول کېږي، چې دغه کړکېچ دومره وېروونکی ونښيي چې په سوريه اغېز کولی شي، ترڅو د نړۍ ولسي وګړي دا ومني او د ملګرو ملتونو د هغې تګلارې په اړه عکس العمل ونه ښيي، چې په سوريه کې يې تطبيقوي.
له زده کړې او تعليم څخه د غربي مفکورې او ثقافت د خپراوي لپاره د وسلې په توګه ګټه اخيستل کېږي، ترڅو له دې لارې د دوی واکمني او حاکميت دوام من شي. دا داسې يوه وسيله او کړنلاره ده چې له پېړيو را په دې خوا زموږ پر وړاندې ترې ګټه اخيستل کېږي. غربي ښکېلاکګر له تعليمي نظام څخه د خپل کلتور او ثقافت د خپراوي په توګه ګټه اخلي. په ۱۸۳۵م کې لارډ ماکي اولي د برتانيې د پارلمان په مخکې وويل: « فکر نه کوم چې د دغه هيواد(هند) پر وړاندې موږ بريالي شو، ترڅو مو د هغه ولس د ملاتير نه وي مات کړی، چې هغه د دوی معنوي او کلتوري ميراث دی نو پر همدې بنسټ زه وړانديز کوم چې موږ د دوی د زاړه تعليمي نظام او کلتور پر ځای يو بل بديل وړاندې کړو. بيا به هنديان په دې اند شي، چې ټول هغه څه چې له بهر څخه دوی ته راغلي او انګريزي دي هغه د دوی تر خپلو ښه او غوره دي، نو له دې امله به دوی خپل قدر او خپل ژبنی کلتور له لاسه ورکړي او له دوی څخه به هغه څه جوړ شي چې موږ يې غواړو يانې يو ريښتنی ښکېلاک شوی ولس».
يو بل بحث هم په مخکې شته چې ښيي ايا د ښکېلاک په نني عصر کې غربي نفوذ محدود شوی او که په بشپړه توګه پکې کمی راغلی. دا ډول فعاليتونه چې پرې زيات اعتبار کېږي او د يوه زده کوونکي په غوښتنې پورې تړلي دي، ترڅو زده کونکی په دې ژوند کې برياليتوب ترلاسه کړي او د غربي نفوذ ژوندي ساتلو ته لاره هواره کړي. لکه څرنګه چې لارډ ماکي اولي وويل، تعليم د بهرني

کلتور د خپراوي يوه کړنلاره ده او په ځوانانو کې د نظرونو حلول او تپل دي. دغه ليدلوری لا تراوسه په ټولې نړۍ کې ژوندی پاتې دی او يو شمېر دولتونه لکه: فرانسه او سويډن د تعليمي نظام له لارې د زده کوونکو هويت ته ځانګړی رنګ او بڼه ورکوي او ډاډمنوي چې د دوی د کړنو سرچينه پر غربي مفکورو باندې ولاړه ده، نه پر اسلام.

د ملګرو ملتونو د شبيه سازۍ کړنلارې زده کونکو ته يوه ثابته تګلاره نه وړاندې کوي، ترڅو دوی وکولی شي چې خپلواک فکر کوونکي او روڼ اندي شي. دوی له تعليمي نظام څخه په ګټې اخيستنې داسې حالت رامنځته کوي، چې غربي نظام ته پر الله او اسلام باندې لوړوالی ور کوي. د يو مسلمان په توګه، موږ بايد خپلې پرېکړې اسلامي لارښوونو ته په کتو سره وکړو. د يوې موضوع د پوهاوي لپاره قران او سنتو ته ولاړ شو، ترڅو پيداکړو چې الله سبحانه و تعالی په څه امر کړی او له هغه سره سم عمل وکړو.

د ملګرو ملتونو د شبيه سازۍ د کړنلارو لمخې زده کوونکو ته زده کړه ورکول کېږي، چې د بشر په لاس له جوړو شويو قوانينو څخه د يوې سرچينې په توګه ګټه واخلي. دغه د بشر په لاس قوانين خلکو ته له الهي قوانينو پرته بشپړ واک ورکوي او پر همدې بنسټ په پوره توګه له اسلام سره په ټکر کې دي. رښتيا هم د زده کوونکو نظرونه اغېزمن شوي او په بشپړه توګه غربي مفکورې پرې واکمنې شوي دي.

سوريه يوه بېلګه ده چې مسلمانان يې له اسلامي حکمونو سره سمې کړنې ترسره کوي. موږ به د بشار الاسد رژيم شتون په رسميت ونه پېژنو، د ملګرو ملتونو شتون به هم په رسميت ونه پېژنو او دغه راز د هغوی هغه کړنلاره هم نه منو چې د ظلمونو د هوارۍ په موخه يې تر سره کوي او د سوريې مسلمانان ورسره مخ دي.

دا هغه بنسټيز بحث دی چې د ملګرو ملتونو د سازمان پر وړاندې ترسره کېږي او د هغه نظام پر وړاندې چې دوی ترې ساتنه کوي. په رښتيا چې د ملګرو ملتونو د شبيه سازۍ کړنلارې به هيڅکله هم دغو ته د پلي کېدو اجازه ورنه کړي.

**﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾**

[الحشر:۷]

*ژباړه: څه چې رسول الله تاسو ته درکوي، هغه واخلئ او له څه شي څخه چې مو منع کوي له هغه څخه منع شئ. له الله سبحانه و تعالی څخه ووېرېږئ، الله سخت سزا ورکوونکی دی.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ليکواله: فاطمه مصعب**

**ژباړن: خبيب**